


د کتاب شمیره : ٥٦




Ketabton.com

ژباړه او ترتیب: محمد بشیر مدني

۱۴۴۷

ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library



مقدمه......................................................................... Error! Bookmark not defined.
- د ابو عبیده رحمه الله تعالی رسنیز رول په معاصره فلسطیني شخړه کې:........................... ۳
- د ابوعبیده رحمه الله تعالی ژوند او شالید :.......................................................... ۳
- د کېږوالو کمپ او شخصیت جوړونه :........................................................... ۵
- د جبالیا کمپ: د کړاو، محاصرې او مقاومت چاپېریال :............................................ ۵
لنډیز: د جبالیا چاپېریال او د ابو عبیده د شخصیت جوړښت :......................................... ۷
- دابوعبیده رحمه الله تعلیم او تحصیل :........................................................... ۷
- دابو عبیده رحمه الله سیاسي فعالیت :............................................................ ۸
- په جعلي انځورونو کې ابو عبیده.. رېښتینی غږ وه :................................................. ۱۰
- د ابو عبیده شهرت او ځانګړتیاوې :............................................................. ۱۰
- د ابو عبیده رحمه الله د شهرت تاریخ :.......................................................... ۱۱
- د ابو عبیده د وینا ځانګړتیاوې :................................................................ ۱۱
د مقاومت لپاره اهمیت :........................................................................ ۱۲
۲۰۰۵ : د القسام رسمي ویاند :................................................................... ۱۲
--- ابوعبیده رحمه الله او الاقصی طوفان:......................................................... ۱۳
- ابو عبیده: د ازادۍ او مقاومت سمبول :......................................................... ۱٤
ابو عبیده؛ په سوځېدلې غزه کې د مقاومتي رسنیو یوه افسانوي څېره :............................... ۱٤
- د رسنیو ځواک او د روایت جګړه :.............................................................. ۱۵
- د ابو عبیده د اشغال پر ضد د رسنیز جهاد شل کلن مزل :.......................................... ۱۷
- پیاوړی رسنیز حضور:........................................................................... ۱۷
- امریکایي بندیزونه :............................................................................ ۱۸
- پرلهپسې اسرائیلي ادعاوې :.................................................................... ۱۸
- دنوي کتاب راپورچې د ابو عبیده د پوځي رسنیز خطاب پرمختګ په ۱۷ کلونو کې څېړي : ... ۱۸
رسمي تایید: ډسمبر ۲۰۲۵/ وروستی څرګندېدنه :.................................................. ۲۰

ketabton.com - The Digital Library



په علني ډول د ابوعبیده رحمه الله دشهادت خبر: ........ ۲۱
خاتمه ........ ۲۳
منابع او مآخذ ........ ۲٤

ketabton.com - The Digital Library



## سریزه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد المرسلين، نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

-د فلسطين قضيه د معاصر تاريخ له هغو مهمو او اوږدمهالو شخړو څخه ده چې سياسي، نظامي، ټولنيز، مذهبي او رسنيز ابعاد لري. دا شخړه يوازې د جګړو، نظامي عملياتو او سياسي پرېکړو په چوکاټ کې نه شي ارزول کېداى، بلکې د خلکو له هويت، تاريخي حافظې، ملي شعور، ټولنيزو روايتونو او رسنيزو تګلارو سره ژوره اړيکه لري. په همدې اساس، د فلسطين د مسئلې د درک لپاره د هغو شخصيتونو او رسنيزو څېرو مطالعه هم مهمه ده چې د دې قضيې په روايت او انعکاس کې اغېزمن رول لوبوي.

-ابو عبيده، چې د القسام لواوو د رسنيز وياند په توګه پېژندل کېږي، د فلسطيني مقاومت له هغو مشهورو شخصيتونو څخه دى چې د خپلو ويناوو، رسنيزو څرګندونو او سمبوليک حضور له لارې يې د فلسطيني مقاومت پيغام په پراخه کچه خپور کړى دى. نوموړي د مقاومت د سياسي او نظامي فعاليتونو د انعکاس ترڅنګ د عامه افکارو په جوړولو، د پيغام رسونې په مديريت او د مقاومت د روايت په پياوړتيا کې د پام وړ رول ترسره کړى دى.

د ابو عبيده شخصيت او رسنيز فعاليتونه د فلسطيني مقاومت په معاصر تاريخ کې ځانګړى ځاى لري. د هغه ويناوې او پيغامونه نه يوازې د خبر رسونې وسيله ګڼل کېږي، بلکې د فکري، رواني او سمبوليک اغېزد يوې مهمې سرچينې په توګه هم مطالعه کېداى شي. په ځانګړې توګه د هغه د شهادت له اعلان وروسته، د نوموړي د شخصيت، رسنيز رول او فکري اغېزو په اړه بحثونو لا زيات اهميت موندلى دى.

-په دې تحقيق کې هڅه شوې ده چې د ابو عبيده ژوند، شخصيت، رسنيز فعاليتونه، فکري ليدلورى او د فلسطيني مقاومت په چوکاټ کې د هغه اغېز په علمي او تحليلي ډول وڅېړل شي. همدارنګه د هغه د رسنيزې ستراتيژۍ، د پيغام رسونې د تګلارو او د عامه افکارو پر جوړښت د اغېزو ارزونه هم د دې څېړنې له مهمو موخو څخه ده.

ketabton.com - The Digital Library



هیله ده چې دا څېړنه د فلسطیني مقاومت د رسنیزو ابعادو د لا ښه درک لپاره یوه ګټوره علمي هڅه وګرځي او لوستونکو ته د موضوع د بېلابېلو اړخونو په اړه روښانه او مستند معلومات وړاندې کړي.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین، وصلی الله وسلم وبارك علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

په درنښت

محمد بشیر مدني

ketabton.com - The Digital Library



## -د ابو عبیده رحمه الله تعالی رسنیز رول په معاصره فلسطیني شخړه کې:

-د فلسطین قضیه د معاصر تاریخ له هغو اوږدمهالو، ژورو او څو اړخیزو شخړو څخه ده چې یوازې د جګړې، سیاست او پوځي تقابل په محدود چوکاټ کې نه شي تعریفېدای. دا قضیه د تاریخ، هویت، جغرافیې، مذهب، ټولنیز شعور او رسنیز روایت په داسې پیچلي تداخل ولاړه ده چې هر اړخ یې د بل په فهم کې بنسټیز رول لري.(Pappé, 2017)

-په دې اوږده او دوامداره شخړه کې، یوازې وسلې او جبهې هغه څه نه دي چې تاریخ جوړوي، -بلکې روایتونه، ویناوې، سمبولونه او د خلکو په ذهن کې جوړ شوي انځورونه هم د جګړې د توازن مهم عناصر ګرځېدلي دي. په همدې لړکې ځینې شخصیتونه داسې راڅرګند شوي چې د هغوی نومونه د زماني له پولې اوړي او د یوې قضیې د فکري او سیاسي حافظې برخه ګرځي؛ داسې څېرې چې د خپل حضور، بیان او اغېزله لارې د تاریخ په بهیرکې ځانګړی ځای خپلوي.

-د معاصرې جګړې په بدلېدونکي ماهیت کې، د وسلو ترڅنګ "پیغام" او د پیغام ترشا "روایت" د ځواک یوه نه جلا کېدونکې وسیله ګرځېدلې ده. همدا رسنیز او رواني بُعد دی چې جګړې ته یوازې نظامي نه، بلکې فکري او سمبولیکه بڼه هم ورکوي. په همدې چوکاټ کې د ابو عبیده (حذیفه سمیر عبدالله الکحلوت) څېره د فلسطیني مقاومت د یو مهم رسنیز مخ په توګه راڅرګندیږي، چې د هغه رول یوازې د خبرونو د اعلان ترکچې محدود نه، بلکې د یوې بشپړې رسنیزې ستراتیژۍ برخه ګڼل کېږي.

- هڅه شوې چې د ابو عبیده د ژوند، فکري جوړښت، سیاسي مسیر او رسنیز رول تحلیل کړي؛ نه د احساساتي قضاوت لپاره، بلکې د یوې تاریخي او رسنیزې پدیدې د درک لپاره. دلته تمرکز پر دې دی چې څنګه یو فرد د رسنیزې جګړې په ډګر کې د پیغام، ژبې او سمبول په وسیله د یوې اوږدې شخړې په روایت کې مهم ځای نیسي، او څنګه دا روایت د سیمه‌ییزو او نړیوالو ادراکونو په جوړولو کې اغېزمن رول لوبوي.

-په دې ډول، هڅه شوې د معاصر فلسطیني و اقعیت یوه داسې څېړنیزه انځورګري وړاندې کړي چې پکې تاریخ، سیاست او رسنۍ د یوې ګډې شبکې په توګه تحلیل شي، او لوستونکی وکولای شي د پېښو ترشا د فکري، رواني او ارتباطي جوړښتونو ژور درک ترلاسه کړي.

## - د ابوعبیده رحمه الله تعالی ژوند او شالید :

-ابو عبیده، چې اصلي نوم یې حذیفه سمیر عبدالله الکحلوت دی، د حماس غورځنګ د وسله‌والې څانګې (کتائب القسام) له مشهورو کسانو څخه دی. هغه د ۱۹۸۴ کال د فبروری

ketabton.com - The Digital Library



په ۱۱مه د غزې د شمال په جبالیا کډوالو کمپ کې زیږېدلی او هلته یې لومړني کلونه تېرکړل. د هغه کورنۍ اصلاً د فلسطین د نعلیا کلي ده، چې د ۱۹۴۸ کال د نکبې پر مهال د اسرائیلو د یرغلونو له امله له خپل کلي څخه کډه شوې او د جنوبي غزې په جبالیا کمپ کې مېشته شوې (بابیه، ۲۰۱۷؛ شلایم، ۲۰۰۱؛ خالدي، ۱۹۹۷).

-د ابو عبیده ماشومتوب او ځواني د سختو تولنیزو او اقتصادي شرایطو په منځ کې تېر شول. جبالیا کمپ د فلسطین د کډوالو یو له هغو سیمو څخه دی چې د اوږدمهال فقر، بېکارۍ، محدودو انساني خدماتو او د اسرائیلي محاصرې له ستونزو سره مخ دی. دغه کمپ د فلسطیني مقاومت او سیاسي فعالیتونو یو مهم مرکز ګڼل کېږي، چې ځوانانو ته یې د سیاسي او ټولنیزو مبارزو د فعالیتونو فرصت برابر کړی دی (روي، ۱۹۹۵؛ میلتون-إدواردز، ۲۰۱۳).

-ابو عبیده خپل لومړنی تعلیم د اونروا په ښوونځیو کې ترلاسه کړ، چې د فلسطیني کډوالو د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د مرستې او کاراداري یوه بنسټیزه شبکه ده. هغه په همدې وخت کې په اسلامي بلاک کې فعاله ونډه درلوده، چې د حماس د محصلینو څانګه وه. د هغه شخصیت په شکل کې د کډوالو کمپ تولنیز جوړښت، د ماشومانو او ځوانانو د روزنې او تعلیم رول مهم دی (صایغ، ۱۹۹۷).

-د ابو عبیده ژوند لومړني کلونه د جګړې، اقتصادي محدودیتونو او د کډوالو د ژوند سختیو تراغېز لاندې تېرشول. د جبالیا کمپ د فلسطیني مقاومت د متنوع ډلو د فعالیت مرکزهم ګڼل کېږي، چې له کبله یې ځوانانو د سیاسي او ټولنیزو مبارزو په ډګرکې فعاله ونډه اخیستې ده (میلتون-إدواردز، ۲۰۱۳).

-په ۲۰۰۲ کال کې ابو عبیده د ثانوي زده‌کړو سند ترلاسه کړ، چې د هغه علمي استعداد او د ښوونې او روزنې په لوري هڅې څرګندوي. د هغه ځواني د فلسطین د سیاسي او تولنیزو حالاتو سره هممهاله وه، چې دا حالت د هغه د سیاسي شعورد لوړتیا سبب شو او د ټولنیز او ملي مسوولیت احساس یې لا قوي کړ.

[1] ـ وکالة سند للانباء غزه .

ketabton.com - The Digital Library



-په پایله کې، د ابو عبیده شخصیت د هغه د کورنۍ د کډوالۍ تجربې، د جبالیا کمپ د ټولنیزو او اقتصادي شرایطو، د تعلیم د فرصتونو، او د فلسطین د مقاومت په فرهنګي چاپېریال کې د فعاله ګډون له امله شکل موندلی دی..[2]

-د کډوالو کمپ او شخصیت جوړونه :

-د جبالیا کمپ: د کړاو، محاصرې او مقاومت چاپېریال :

-جبالیا کمپ د غزې تر ټولو لوی کمپ دی، چې د شمال په سیمه کې موقعیت لري او د ۱۹۴۸ کال د نکبې له پېښو وروسته جوړ شو. دغه کمپ د خپل تاریخ په اوږدو کې د سیاسي بې‌ثباتۍ، اقتصادي ستونزو، پوځي یرغلونو او دوامداره محاصرې له سختو شرایطو سره مخامخ شوی دی. د فقر، بېکارۍ، محدودو خدماتو او امنیتي ګواښونو تر څنګ، جبالیا د فلسطیني مقاومت د فکري او ټولنیز شعور له مهمو مرکزونو څخه هم ګڼل کېږي.

-د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له اوومې وروسته، د اسرائیلو د پراخو پوځي عملیاتو په ترڅ کې جبالیا کمپ په ځانګړې توګه تر سختو بریدونو لاندې راغی. د استوګنې ودانۍ، ښوونځي، د بې‌ځایه شویو د پناه مرکزونه او عامه تاسیسات په پرله‌پسې ډول وویشتل شول. د ملګرو ملتونو د چارو اکود څرګندونو له مخې، په غزه کې داسې هېڅ سیمه نه وه چې په بشپړه توګه خوندي وبلل شي، سره له دې چې خلکوته د ځینو سیمو د «خوندي زونونو» په توګه د تګ سپارښتنه کېده.

-د جبالیا د خلکو د ورځني ژوند د سختیو یوه روښانه بېلګه د صباح نعیم مصطفی الدقس کیسه ده، چې د اتو ماشومانو مور او د کمپ اوسېدونکې ده. نوموړې بیانوي چې د جګړې له پیله یې کورنۍ په خپل دوه پوړیزکورکې پاتې شوه، سره له دې چې شاوخوا سیمه د بمبارۍ او چاودنو تر دوامداره ګواښ لاندې وه. د اوربند لنډمهاله ورځې خلکو ته د جګړې د پای هیله ورکړه، خو د

[2] - المراجع

١. بابیه، إ .(٢٠١٧) .أکبر سجن على الأرض: تاريخ الأراضي الفلسطينية المحتلة .أون وورلد للنشر.
٢. شلايم، أ .(٢٠٠١) .الجدار الحديدي: إسرائيل والعالم العربي .دبليو. دبليو. نورتون وشركاه.
٣. خالدي، ر .(١٩٩٧) .الهوية الفلسطينية: بناء الوعي القومي الحديث .جامعة كولومبيا للنشر.
٤. روي، س .(١٩٩٥) .قطاع غزة: السياسة والمجتمع والاقتصاد .معهد الدراسات الفلسطينية.
٥. صايغ، ي .(١٩٩٧) .الكفاح المسلح والبحث عن الدولة: الحركة الوطنية الفلسطينية ١٩٤٩–١٩٩٣ .جامعة أكسفورد للنشر.
٦. ميلتون-إدواردز، ب .(٢٠١٣) .السياسة الإسلامية في فلسطين .آي. بي. توريس.

ketabton.com - The Digital Library



اوربند له ختمېدو وروسته اسرائيلي ځواکونه یو ځل بیا کمپ ته داخل شول او د خلکو د ژوند کړاوونه لا زيات شول.

-د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په میاشت کې د لومړي پراخ پوځي یرغل پر مهال، د جبالیا اوسېدونکي اړ شول چې خپل کورونه پرېږدي او د غزې ښار نورو سیمو ته کډه شي. د بمباریو او توپچي بریدونو شدت دومره زيات و چې ګڼې کورنۍ د فرعي کوڅو او اوږدو لارو له لارې ځانونه خوندي سیمو ته رسول. وروسته له دې چې ځواکونه له سیمې ووتل، ډېرې کورنۍ بېرته خپلو کورونو ته ستنې شوې، خو له نیمه ویجاړو ودانیو او خرابو شویو خدماتو سره مخ شوې.

-په ۲۰۲۴ کال کې د جبالیا دویمه او بیا درېیمه محاصره او یرغل د خلکو ژوند لا پسې ستونزمن کړ. د کمپ پر کوڅو او کورونو د توپونو، الوتکو او بې‌پیلوټه الوتکو بریدونه روان وو. خلکو نشوای کولای له خپلو کورونو ووځي، ځکه د خوځښت هر ډول هڅه د ډزو او مرګ له خطر سره مل وه. د خوراکي توکو او اوبو کمښت ورځ تر بلې زیاتېده او ګڼې کورنۍ د لوږې او تندې له ګواښ سره مخ وې.

-د محاصرې پر مهال د شپې له خوا د ودانیو ویجاړول د خلکو لپاره د وېرې یوه نوې بڼه وه. د سیمې اوسېدونکو راپور ورکړی چې ګڼ استوګنیز بلاکونه او کورونه د خپلو اوسېدونکو پر سر ونړول شول. د چاودنو، ډزو او بې‌پیلوټه الوتکو دوامداره غږونو د خلکو رواني وضعیت سخت اغېزمن کړی و او ډېرو کورنیو د خپل ژوند تر ټولو سخت او وېروونکي پړاو تجربه کړ.

-د اکتوبر په وروستیو کې، د جبالیا ګڼ اوسېدونکي د سپینو بیرغونو په پورته کولو سره د سیمې پرېښودو ته اړ شول. کورنۍ له خپلو نارینه غړو بېلې شوې، لسګونه زره خلک د نامعلوم برخلیک او سختو شرایطو په لور کډوال شول، او د جبالیا کمپ د جګړې، محاصرې، لوږې او بې‌ځایه کېدو یوه ژوره انساني تراژیدي یې تجربه کړه.

-د جبالیا د خلکو دا تجربې څرګندوي چې دغه کمپ یوازې د کډوالو یو استوګنځای نه، بلکې د فلسطیني ټولنې د درد، مقاومت، بقا او ملي هویت یوه ژوندۍ بېلګه ده. د کلونو جګړو او محاصرو سره سره، د دې سیمې اوسېدونکو د ژوند، هیلې او مقاومت روحیه ژوندۍ ساتلې ده. [3]

[3] - المرکزالفلسطیني لحقوق الانسان . / الجزیره نیت .

ketabton.com - The Digital Library



**لنډیز: د جبالیا چاپېریال او د ابو عبیده د شخصیت جوړښت :**

-د جبالیا چاپېریال د ابو عبیده د شخصیت په جوړښت کې بنسټیز رول درلود. په دې سیمه کې هغه له څو مهمو عواملو سره مخامخ و، چې په مستقیم ډول یې د هغه فکري او رواني جوړښت ته بڼه ورکړه:

**فقر:** اقتصادي سختۍ او د لومړنیو اړتیاوو نشتوالی د هغه د واقعبینۍ او د ټولنې د ستونزو د درک لامل شو.

**جګړه:** دوامداره پوځي شخړې او د جګړې چاپېریال هغه ته د مقاومت او د ځان د دفاع د اهمیت احساس ورکړ.

**سیاسي شعور:** د سیمې سیاسي پېښې او د خلکو سیاسي مبارزې هغه ته د سیاست او ټولنیزو مسایلو ژور درک ورکړ.

**د مقاومت فرهنګ:** په سیمه کې د مقاومت دودونه او ارزښتونه د هغه د مبارزې، د ارادې او د فکري مبارزې په جوړښت کې مهم بنسټونه وو.

دغه ټول عوامل یوځای د ابو عبیده د فکري جوړښت او د هغه د شخصیت د رامنځته کېدو اساسي عناصر جوړکړل، چې وروسته یې د رسنیز او سیاسي فعالیتونو لپاره زمینه برابره کړه.

**- دابوعبیده رحمه الله تعلیم او تحصیل :**

-ابو عبیده، چې اصلي نوم یې حذیفه سمیر عبدالله الکحلوت دی، خپل لومړنی تعلیم یې د اونروا په ښوونځیو کې ترلاسه کړ، کوم چې د فلسطیني کډوالو د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د مرستې او کار اداره ده. دغه ښوونځي په هغو سختو اقتصادي او ټولنیزو شرایطو کې د زده‌کړې بنسټیز فرصت ورته برابرکړی و.

-په ښوونځي کې هغه د خپلو همزولو سره په ملي او ټولنیزو فعالیتونو کې برخه اخیستله. ابو عبیده د اسلامي بلاک غړی و، چې د حماس د محصلینو څانګه وه. د دې لارې هغه خپل سیاسي شعور او ملي پوهاوی په لومړیو کلونو کې حاصل کړ.

-هغه خپل تحصیل د ثانوي زده‌کړو په برخه کې بشپړ کړ او په ۲۰۰۲ کال کې یې د علمي فراغت سند ترلاسه کړ، چې د هغه د علمي استعداد او د ښوونې او روزنې په لور هڅې څرګندوي.

ketabton.com - The Digital Library



-وروسته، ابو عبیده د غزې اسلامي پوهنتون ته لاړ. هغه لومړی د انجینرۍ زده‌کړې پیل کړې، خو وروسته یې خپلې زده‌کړې د دې پوهنتون د اصول دین پوهنځي ته واړولې، چیرې چې د شرعي علوموپه برخه کې یې تخصص لاره، هغه په ۲۰۱۳ کال کې د عقیدې له څانګې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ، او د خپلې څېړنیزې موضوع لپاره یې «سپېڅلې خاوره د یهودیت، عیسویت او اسلام په نظر کې» انتخاب کړې وه. [٤]

-د ابو عبیده تعلیمي مسیر د کړوالو د ژوند، د اقتصادي محدودیتونو، او د سیاسي و اقعیتونو په منځ کې راتوکیدلی وه ، چې د هغه شخصیت او راتلونکو فعالیتونو په جوړښت یې مستقیم اغېز درلود. [٥]

## -دابو عبیده رحمه الله سیاسي فعالیت :

- ابو عبیده، رحمه الله چې تل یې د فلسطیني کوفي [٦] ترشا نقاب اغوستی و، د غزې او مقاومت غږ، د القسام رسمي ویاند، دی چې هویّت یې د شاوخوا دوه لسیزو راهیسې پټ پاتې و.

-هغه د اسلامي مقاومت غورځنګ (حماس) په صفونو کې شامل شو، او د دې غورځنګ په وسله واله څانګه کې یې مشرۍ ترلاسه کړه، د یوځې رسنیو د څانګې مسؤولیت یې په غاړه واخیست، او د القسام رسمي ویاند شو.

---

[٤] - وکالة سند للانباء غزه .

[٥] - سرچینې :

بابیه، خلیل .تاریخ فلسطین المعاصر .بیروت: مرکز الدراسات الفلسطینیة، ۲۰۱۷م.

شلایم، آوی .اسرائیل او فلسطین: تاریخ او شخړه .لندن: Penguin Books، ۲۰۰۱م.

خالدي، ولید .کلید بازګشت: د فلسطین د کړوالو اسناد .واشنګټن: مؤسسه الدراسات الفلسطینیة، ۱۹۹۷م.

میلتون-إدواردز، ب .حماس: اسلامي سیاست او مقاومت په فلسطین کې .لندن: Polity Press، ۲۰۱۳م.

روي، سارا .غزه: اقتصاد د محاصرې لاندې .لندن: Zed Books، ۱۹۹۵م.

غزې اسلامي پوهنتون .پوهنځي او ماسټرۍ پروګرامونه .غزه: د پوهنتون رسمي ویبپاڼه، ۲۰۱۳م.

[٦] - فلسطیني کوفي هغه څانګړې لمرۍ یا توکرۍ چې د فلسطین د خلکو سره تړاو لري. په پښتو کې یې معنی داسې تشریح کېدی شي:

-فزیکي بڼه :دا اکثراً تور او سپین رنګه توکروې چې په څانګړو ګل یا جال بڼو سره ډیزاین شوی وي.

- مفهومي ارزښت :د فلسطیني خلکو ملي پژند، مقاومت، او هویت ښکارندوی کوي.
- تاریخي ارزښت :په ۲۰ مې پېړۍ کې دا کوفي د فلسطین د ملي غورځنګ سمبول ګرځېدلی، او د مظاهرو او سیاسي شعارونو په ترځ کې یې استعمال زیات شوی.

په لنډه توګه، فلسطیني کوفي یوازې یو توکرنه دی، بلکې د فلسطین د خلکو د پژند، مقاومت او فرهنګي هویت نښه ده.

ketabton.com - The Digital Library



-هغه د خپلو قوي ویناوو له امله مشهور شو، چې مینوال او حتی دښمنان یې دواړه د اورېدو لپاره راتولېدل، او هر ځل چې ښکارېده، د فلسطیني چارو د څارونکو لپاره لویه پېښه ګڼل کېده، په ځانګړي توګه د جګړو او د اسرائیل پر غزې د بریدونو په وختونو کې.

-د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر په ۲۹مه اعلان وکړ چې هغه د اسرائیل لخوا د غزې پر ضد د نسل وژنې په جګړه کې شهید شوی دی، چې د "طوفان الاقصی" جګړې وروسته رامنځته شوې وه. [۷]

-هغه په ۲۰۰۰ کال کې د دویمې فلسطیني انتفاضې د پیل سره سم د اسلامي مقاومت غورځنګ (حماس) په صفونو کې ژرګډون وکړ، او د دې غورځنګ په وسله واله څانګه "القسام نظامي لواء ګانو" کې یې خپل رول څرګند شو، چې په کې یې له میداني دندو تررسنۍ پورې بېلابېل کارونه ترسره کړل.

-د "ابو عبیده" رحمه الله لومړنی څرګندید نه په حماس پورې اړوند ویډیويي خپرونو کې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو ترمنځ وشوه، چې په کې یې ځان د " القسام د یو قوماندان" په توګه معرفي کړ. خو پر هغه باندې د خلکو پام هغه مهال راواوښت کله چې د ۲۰۰۴ کال د اکتوبر په میاشت کې د غضب د ورځو په جګړه کې د شمالي غزې په النورجومات کې یوه خبري غونډه جوړه کړه. هغه خبریالانو ته د تورماسک په اغوستلو او د سر څخه د شنې پټۍ [ه ترلو سره چې د القسام نښه یې لرله، وړاندې شو، او د جګړې د حالاتو، د مقاومت د مهمو عملیاتو، او د دښمن د ځپلو وسایلو په اړه یې ورسره خبرې وکړې.

-د اسرائیلو له غزې د وتلو وروسته په ۲۰۰۵ کال کې، هغه د "القسام خبري ویاند" په توګه څرګند شو، او همدا لقب یې د الجزیرې په ۲۰۰۵ کال فلم "القسام... د توپک مبلمه" کې هم لرلو، چې په ۲۰۱۴ کال کې خپور شو. په دې فلم کې هغه وویل چې د عزالدین القسام د لواء ګانو لپاره یې د رسنیو د دفتر نومول په ۲۰۰۴ کال کې ترسره شول .

-حذیفه کهلوت د القسام د پوځي رسنیو د مسؤل په توګه دنده ترسره کوله او د هغې عمومي قوماندان محمد الضیف ته نږدې و. د القسام د پوځي رسنیو د څانګې د مشر په توګه، هغه په

---

[۷] - الجزیره نیت .

ketabton.com - The Digital Library



ځو برخو ځارنه کوله، چې پکې ثبت او عکاسي، رواني عمليات، د رسنيو مديريت، او د ويډيو او ليکل شويو بيانيو خپرول شامل وو. [٨]

**-په جعلي انځورونو کې ابو عبيده.. ريښتينی غږ وه :**

**-د ابو عبيده شهرت او ځانګړتياوې :**

-په داسې يو وخت کې چې هر څوک شهرت پسې ګرځي، د ابو عبيده بشپړ شهرت يو ملثم ( مخ پټي ) سړي ته ورسېد چې نه يې غوښتل خپل مخ ښکاره کړي، يوازې سترګې يې ځرګندې وې. هغه داسې شهرت حاصل کړ چې هيڅوک نه شي کولی نن ورځ په ټوله عربي نړۍ کې ورسره سيالي وکړي، سره له دې چې هيڅوک د هغه ريښتينی مخ نه پېژني او ښايي هيڅکله يې ونه پېژني، پرته له څو تنو د مقاومت له مشران څخه چې په غزه کېږه .

- ښايي دا سړی په حقيقت کې د خلکو په منځ کې په خپل اصلي مخ نه ښکاره کېږي، داسې چې هېڅوک يې نه پېژني. دا د فلمونو د اتلانو په څېر دی، چې ماښام د ځانګړي لباس او ماسک سره ښار کې د بدو پر ضد مبارزه کوي. خلک د هغوی ريښتينی مخ نه ويني، يوازې د هغوی کړني او اغېز محسوسوي.

- ابو عبيده د عزالدين القسام بريګېډونو (پوځي څانګې) رسنيز وياند دی. نوموړی په وروستيو کلونو کې په ځانګړي ډول د عربي نړۍ په ځينو برخو کې زيات پېژندل شوی دی، او د هغه د ويناوو او اعلاميو ته پراخه پاملرنه کېږي. د هغه شهرت په ځانګړي ډول د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له ۷مې نېټې وروسته د "طوفان الاقصی" په نوم يادېدونکو پېښو سره نورهم زيات شو، چې له همدې امله يې ويناوې او ځرګندونې په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې ډېرې خپرېږي.

-په مصر کې د ابو عبيده په اړه سندرې جوړې شوې، په عمان کې ځوانان د ورزش د حالاتو د تمريناتو پر مهال د هغه ويناوې اوري، جوماتونه د هغه خبرې په لوړغږ خپروي، په لبنان کې په ښوونځيو کې د ازموينو پوښتنو کې يې نوم شامل شوی، او په بيروت کې د هغه تصوير خپور شوی چې پرې ليکل شوي "د امت وياند"، په الجزائر کې ماشومان د هغه په نقش د لوبو ترسره کولو لپاره سيالي کوي، او حتی په ترکيه کې د ابو عبيده دود د ماشومانو لوبه شوې او په ځينو کافي شاپونو کې د هغه عکسونه ځړول شوي.

[٨] - الجزيره نيت .

ketabton.com - The Digital Library



-په ټولنیزو رسنیو کې د عربي ماشومانو او زړو خلکو عکسونه خپاره شوي چې د هغه ویناوې ګوري یا یې تقلید کوي.

-ابو عبیده د عامو خلکو په فرهنګ کې د "سیف القدس" د ۲۰۲۱ کال له جګړې څخه ځای پیدا کړی و، خو اوس د "طوفان الأقصی" سره د هغه ځانګړی مقام نورهم لوړشوی دی. -هغه نور یوازې د القسام ویاند نه دی چې د مقاومت د فعالیتونو په اړه خبرې کوي، بلکې د الهام بخښونکي مشر په توګه هم پېژندل شوی. [9]

-د ابو عبیده رحمه الله د شهرت تاریخ :

-"تلویزیوني پردې ته تلونکی مېلمانه، خلکو ته معلومات ورکوي، او بیا بېرته سیوري ته راځي، هغه رسنیز ویاند او عین وخت کې جنګیالی دی، چې د وسلو په ژبه ماهر دی. دا د ابو عبیده پېژند پاڼه ده".

-ډېر خلک فکر کوي چې ابو عبیده لومړی ځل په ۲۰۰۶ کال کې په پرده را ښکاره شو، کله چې د اسر اییلي عسکر جلعاد شالیط د نیولو خبرې ورکړ، خو حقیقت دا دی چې هغه د ۲۰۰۵ کال وروسته له غزې څخه داسر ائیلو د وتلو وروسته د القسام ویاند ټاکل شوی و. -هغه لومړی ځل په یوه زاړه فلم کې څرګند شو چې د الجزیرې کانال د ۲۰۰۵ کال لپاره یې جوړکړی و، خو خپرونه یې تر ۲۰۱۴ پورې ځنډېدلې وه، او په لومړیو کې د خپل ملثم نقاب سره ښودل شوی و.

-د هغه د وینا ځانګړتیاوې د وخت په تېریدو سره د خلکو په منځ کې شهرت موندلی، مهمې ځانګړتیاوې په دقت او دقیقه شمېرنه وه. کله چې دالجزیرې خبریال د عملیاتو دګډون کوونکو شمېر وپوښت، ابو عبیده لنډ ځنډ وکړ او وېې ویل، "شمېر نه شم ټاکلی"، او کله چې خبریال بیا وپوښتل چې لسګونه دي که سلګونه، هغه وویل "لسګونه". د دقیقو معلوماتو پر وړاندې یې ټینګار وکړ. د دې دقیقې او ربښتیني وینا له امله یې د عربانو په منځ کې باور جوړ کړ. [10]

-د ابو عبیده د وینا ځانګړتیاوې :

-ابو عبیده د خپلو ویناوو پر مهال د جګړې و اقعیتونه په دقیق ډول وړ اندې کوي، د خلکو روانې حالت په پام کې نیسي، د احساساتي فشار کمولو لپاره یې الفاظ په احتیاط سره ټاکل شوي.

[9] - الجزیره نیت .

[10] - الجزیره نیت .

ketabton.com - The Digital Library



هغه طنزاو خندا هم په خپلو خبرو کې کاروي، لکه د عربو مشرانو ته د "لا سمح الله" یادونه، چې په ټولنیزو رسنیو کې مشهورشو.

-خطابونه یې معمولا لنډ، دقیق او د عملیاتو معلومات وړاندې کوي، د خلکو ترمنځ د باور بنسټ جوړوي، او حتی ځینې اسرایيلي تحلیلګران وایي چې د ابو عبیده معلومات د خپل پوځ د معلوماتو په پرتله د باوروړدي.

## د مقاومت لپاره اهمیت :

-ابو عبیده یوازې د القسام ویاند نه دی، بلکې د مقاومت لپاره یو سمبول، الهام بخښونکی او د صداقت غږ دی. هغه د خلکو احساسات او د مقاومت برياوې په و اقعي ډول رسنیو ته وړاندې کوي. د هغه ملثم څېره او دقیق خطاب د خلکو ترمنځ یې د اعتماد او مینې اړیکه رامنځته کړې، چې د جګړې په وخت کې د فلسطین د مقاومت لپاره معنوي ملاتړ جوړوي. [١١]

## ۲۰۰۵ : د القسام رسمي ویاند :

-سره له دې چې هغه څو ځله په رسنیو کې څرګند شوی او له بېلابېلو خبري رسنیو سره یې خبرې کړې دي، خو د "ابو عبیده" ترټولو مهم او څرګند حضور د ۲۰۰۶ کال د جون په میاشت کې و، کله چې یې د "الوهم المتبدد" (له منځه تللی وهم) د عملیاتو د بریا اعلان وکړ. -دغه عملیات د دوو اسرائیلي سرتېرو د وژلو، د دوو نورو د ټپي کېدو، او د یو سرتېري جلعاد شالیت د اسیرکولو سبب شول، چې وروسته په ۲۰۱۱ کال کې د اسرائیل سره د یوې معاملې له مخې خوشې شو. د دې معاملې پر اساس له ( ۱۰۰۰) زرو څخه ډېر فلسطیني بندیان د اسرائیلي زندانونو څخه آزاد شول.

-د "ابو عبیده" دغه څرګندیدل په عربي ټولنه کې ژوراغېزوکړ، ځکه دا عملیات یوازې څو ورځې وروسته له هغې په ویډیو ډول خپاره شول چې د هُدی د ماشومې کیسې یې خلک ژړولي وو؛ هغه مهال هُدی په وېره منډې وهلې او د خپلې کورنۍ د مړو جسدونو ته یې غږ کاوه، چې د اسرائیلي ځواکونو په یوه قتل عام کې د غزې په ساحل کې وژل شوي وو. په دغه پېښه کې هُدی، مورېې او پنځه وروڼه یې شهیدان شول.

-د ۲۰۰۹ کال د "توپان رصاص" جګړې پر مهال چې اسرائیلو پر غزې برید وکړ، د مقاومت درسمي بیانیو له لارې د هغه غږ څرګند شو، او د اسرائیلي پوځ د عملیاتو او تلفاتو په اړه

---

[١١] - الجزیره نیت .

ketabton.com - The Digital Library



معلومات وراندي شول. همدارنګه هغه په ۲۰۱۲ کال کې د "عامود السحاب" يا "حجارة السجيل" جګړه کې هم بيا څرګند شو، لکه څنګه چې مقاومت ورته نوم ورکړی و.

-په ۲۰۱۴ کال کې د "العصف المأکول" جګړې پرمهال، دغه نقاب پوش وياند لا ډېر څرګند شو، او د هغه ترټولو مهمه وينا د همدې کال د جولای په مياشت کې وه، چې پکې يې د "شاؤول آرون" د اسيرکولو اعلان وکړ.

-د جګړې پرمهال دا هم ليدل کېدل چې د هغه اغېزډېرزيات شوی و؛ ګڼ شمېرخلکو به د هغه د خبرو اورېدو لپاره راټولېدل، او د هغه نوم به د مقاومت په ملاتړ او د اسرائيلي ځواکونو د جنايتونو پرضد په شعارونو کې تکرارېده.

-اسرائيلو په پيل کې هڅه کوله د "ابو عبيده" خبرې له پامه وغورځوي، خو د هغه د نفوذ او شهرت له زياتېدو سره، هغه د اسرائيلي رسنيو د بحثونو مهمه موضوع وګرځېد. د هغه هره وينا به ژرد اسرائيلي رسنيو له خوا ژباړل کېده، او د هغه د شخصيت په اړه د اسرائيلو پام ورځ تر بلې زياتېده، ځکه هغه د اسرائيل پروړاندې د رواني او رسنيزې جګړې له مهمو څېرو څخه ګڼل کېده.

-اسرائيلي رسنيو راپورورکړی چې تل ابيب ځوځله د هغه د ترورهڅه کړې ده، او ويل کېږي چې د هغه کورېې په ۲۰۰۸، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو کې څوځله بمبارکړی، او تردې وروستيو پورې يې د "طوفان الاقصی" دجګړې پرمهال هم د هغه د هدف ګرځولو هڅه کړې ده.

-د حذيفه کحلوط له يوه غږيز پيغام څخه د طوفان الاقصی د ۱۳مې ورځې په جريان کې – د القسام په ټيليګرام [۱۲]

--- ابوعبيده رحمه الله او الاقصی طوفان:

-د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر په ۸مه، يعنې د "طوفان الاقصی" د جګړې له بلې ورځې وروسته، ابو عبيده په يوه لنډ غږيز پيغام کې څرګند شو، چې پکې يې د اشغالګرو د اسيرانو موضوع وڅېړله. وروسته له شاوخوا دوو ساعتونو څخه يې يو اوږد ثبت شوی پيغام هم خپورکړ، -او له همدې د اسرائيلي بريدونو د ورځو په جريان کې يې په دوامداره توګه د غږيزو، ويډيويي او ليکلي پيغامونو له لارې خپل حضورته دوام ورکړ.

[۱۲] - الجزيره نيت .

ketabton.com - The Digital Library



-په همدې موده کې ابو عبیده د عربي نړۍ په کچه، بلکې په نړیواله سطحه، یو پراخ مشهوریت وموند. د هغه څرګندونې د پراخ سیاسي او ولسي پام وړ وګرځېدې، تر دې چې ځینو یې په ولسي سندرو کې هم ځای وموند، او په ټولنیزو شبکو کې د بحث او څېړلو مهمه موضوع وګرځېده. د هغه هرېنوې څرګندونې به پراخ اغېز جوړاوه او د خلکو د پام مرکز به ګرځېده.

-ډېرو ارزونو ته په کتو، د اسرائیل د دوو کلونو د جګړې په جریان کې، د "ابو عبیده" لقب د تر ټولو زیات څېړېدونکي او تکرارېدونکي نوم په توګه یاد شوی دی، نه یوازې په ټولنیزو شبکو کې بلکې د اسرائیلو په بېلابېلو برخو کې هم. د هغه ویناوو ته د لوړ اعتبار له امله داسې حالت رامنځته شو چې په اسرائیلو کې خلکو په خپلو چارواکو نیوکې کولې چې ګواکې هغوی معلومات پټوي او دروغ وايي.

-د فلسطیني موضوع د څارونکو، شنونکو او عامو خلکو له خوا ابو عبیده ته بېلابېل لقبونه ورکړل شول، لکه: "د غزې غږ"، "د مقاومت غږ"، "د امت ویاند"، "د رواني جګړې نښه"، -او "د جګړې قاموس". خو تر ټولو مشهور لقب یې، چې حتی په سندرو او نغموکې هم یادېږي او د هغه پېژندګلو برخه ګرځېدلې، "نقاب پوش" (ملثم) دی.[۱۳]

-ابو عبیده: د ازادۍ او مقاومت سمبول :

ابو عبیده؛ په سوځېدلې غزه کې د مقاومتي رسنیو یوه افسانوي څېره :

-ابو عبیده د ازادۍ نښه او د مقاومتي رسنیو مخکښ شخصیت و. هغه د غزې د ویجاړو شویو کورونو د کنډوالو پر سر ولاړو، د ناامېدۍ له منځه یې د هیلې تارونه اوبدل، او اتلولي او روښانه دریځ یې په یوه لاس کې راټول کړي وو. ده هر ځوان ته د فلسطیني کوفۍ، کمرې او د ټیپونو د ترلو پیغام ورکاوه، څو فلسطین د هر باوجدانه انسان په زړه کې ژوندۍ پاتې شي.

-هغه د «طوفان الاقصی» د دورې مخکښه څېره وه. شهادت یې د هغه ولس برخلیک و چې د خپل دین او وطن د دفاع لاره یې غوره کړې وه. زرورزرونه تل روښانوي، او د حقیقت روایت سمول د ازادۍ او خلاصون دروازې پرانیزي.

---

[۱۳] - الجزیره نیت .

ketabton.com - The Digital Library



-د هغه مشهوره جمله: «تاسو به د الله تعالی په وړاندې زموږ سیالان او حساب ورکوونکي یاست» د وخت له پولې هاخوا غږیږي، د امت وجدان راویښوي، ځنډېدلې مېړانه راپاروي، او خلک د انتظار پر ځای عمل ته رابولي.

-حذیفه الکحلوت، چې په ابو عبیده مشهورو، یو دروند او باوقاره مبارزو. هغه د خپلې خاورې د ازادۍ او د خپلو خلکو د برېته ستنېدو لپاره یې مبارزه وکړه. د شهادت ارمان یې درلود او د بیت المقدس د ازادۍ پیغام یې له یوه نسل څخه بل نسل ته لېږداوه.

-د هغه کامونو اورېده اغېزه لرله، او د غږ انګازې یې د ثبات بیرغ پورته ساته. وینه یې د غزې په کوڅو کې د یوه روان سیند په څېر د وطن خاوره خړوبوله، امید یې وکر، او ماشومانو ته یې د مقاومت او روایت لومړني درسونه ورزده کول.

-هغه نقاب لرونکی شخصیت، چې خپل مخ یې پټ کړی و خود فلسطین څېره روښانه شي، یوازې یو ویاند نه و؛ بلکې د یوه ولس د کیسې استازی و. له رفح څخه تر ناقورې پورې یې فلسطین په زړه کې لېږداوه او د خپل ولس د ارمانونو سمبول ګرځېدلی و.

-د هغه د غږ ځواک او د خبرو اغېز د یوې سرګردانې او ستړې شوې نړۍ لپاره د لارښود حیثیت درلود. ابو عبیده یوازې یو ویاند نه و، بلکې د یوه داسې فکر او پروژې استازی و چې نه یې پر اصولو معامله کوله او نه تر فشارونو لاندې شاته کېده. هغه د مقاومتي رسنیو له مکتب څخه راتوکېدلی و او د مهمو پراوونو پر مهال یې د عام غبرګون پر ځای یې د یوې پیاوړې او اغېزمنې رسنیزې کیسې بنسټ کېښود. [14]

-د رسنیو ځواک او د روایت جګړه:

-هغه فلسطین د زخم، هیلې او برخلیک په توګه ژوندی ساتلی و. د هغه ژوند او مبارزې د دې څرګندونه کوله چې ستر انسانان له نړۍ څخه نه ځي، بلکې خپل پیغام او امانت راتلونکو نسلونو ته سپاري.

-له ماشومتوبه یې، چې د جبالیا په کوڅو او د سمندر پر غاړه تېر شوی و، تر هغه وخته چې د جګړې او مبارزې ډګرونو ته ورسېد، نوم یې د فلسطین په خاوره، دېرو او ونو کې منقش شو. له همدې امله د هغه مړینه د ډېرو خلکو په زړونو کې ژور اغېز پرېښود، خو د هغه فکر او پیغام ژوندی پاتې شو.

[14] - الجزیره نیت.

ketabton.com - The Digital Library



-غزه، چې له کلونو راهیسې د جګړې او ویجاړۍ له سختو حالاتو سره مخ وه، د ده نوم او یاد یې د ازادۍ غوښتونکو په زړونو کې ژوندی ساته. د هغه مشهوره وینا لا هم د خلکو په ذهنونو کې انګازې کوي او هغوی عمل، استقامت او مقاومت ته رابولي.

-د کلمې او کمرې دغه مبارزه جوماته تر رسنیو پورې اورېده لاره وهلې وه. ده باور درلود چې رسنۍ یوازې د خبر رسولو وسیله نه ده، بلکې د حقیقت د څرګندولو او د عامه افکارو د جوړولو مهم ډګر دی. د ده همکارانو او ملګرو په انځورونو، راپورونو او مستندونو کې د جګړې و اقعیتونه نړۍ ته ورسول او هڅه یې وکړه چې د فلسطین د خلکو غږ نړیوالو ته واوري.

- ابو عبیده د فلسطین د قضیې په اړه د نړیوالو ذهنونو په بدلولو کې مهم رول ولوباوه. هغه د فلسطین د خلکو درد، کړاو او مقاومت داسې نړۍ ته وړاندې کړچې دېروخت یې د بل اړخ روایت اورېده.

-د هغه رسنیزه مبارزه د صداقت، زغم او استقامت ازموینه وه. د سختو شرایطو، لوږې، بمبارۍ او فشارونو پر مهال یې خپل دریځ وساته او باور یې درلود چې بریا یوازې د وسلو په شمېر نه، بلکې د حق، صبر او ثابت قدمۍ په څواک ترلاسه کېږي.

- د ابو عبیده ژوند د راتلونکو نسلونو لپاره د زړورتیا، قربانۍ او ازادۍ درس دی. د هغه نوم به د هغو کسانو په یاد کې پاتې وي چې د فلسطین د ازادۍ، عزت او حق غوښتنې مبارزه د تاریخ یوه مهمه برخه ګڼي.[۱۵]

- د فلسطین مبارزه یوازې یوه پوځي جګړه نه ده، بلکې د روایتونو، رسنیو او عامه افکارو جګړه هم ده. هغه باورلري چې ابو عبیده او د هغه ملګري وتوانېدل د فلسطین په اړه هغه روایت بدل کړي چې د اوږدې مودې لپاره په نړیوالو رسنیو او سیاسي ډګرونو غالب و.

- د فلسطین د خلکو کړاوونه، بې‌ځایه کېدل، جګړې او قربانۍ یوازې د تاریخ پاڼې نه دي، بلکې روان و اقعیتونه دي چې باید نړۍ یې ووینې او درک یې کړي. ابو عبیده هڅه کوله دغه و اقعیتونه د رسنیو له لارې نړیوالو ته ورسوي او د فلسطینیانو غږ د نړیوالو تر غوږونو ورسوي.

- د هغه رسنیزه مبارزه د زغم، باور او ثبات بېلګه وه. د سختو شرایطو، محاصرې او جګړې تر سیورې لاندې یې خپلو پیغامونو ته دوام ورکړ او هڅه یې وکړه چې د خپلو خلکو مورال لوړوساتي.

---

[۱۵] - الجزیره نیت .

ketabton.com - The Digital Library



- د ابو عبيده نوم د هغو کسانو په کتارکې دی چې د خپلې عقيدې او فکر لپاره يې قرباني ورکړې او خپل ژوند يې د يوه ستر هدف لپاره وقف کړی و. د داسې شخصيتونو اغېزيوازې د هغوی تر ژوند پورې محدود نه وي، بلکې د راتلونکو نسلونو په فکر، احساساتو او چلند کې هم ژوندی پاتې کېږي.

-د فلسطين د خلکو د مقاومت او استقامت دستايلووړدی هغه دا چې د فلسطين موضوع به د ازادۍ غوښتونکو انسانانو په ذهنونو او زړونو کې ژوندی پاتې وي. که څه هم جګړې او کړاوونه درانه دي، خو د خلکو اراده او هيله لا هم پياوړې ده.

- د هغو ټولو کسانو درناوی اړين دی چې د فلسطين د قضيې لپاره يې قرباني ورکړې ده. تاريخ به د هغوی مبارزې او سرښندنې په ياد وساتي، او د ازادۍ، عزت او حق غوښتنې ارزښتونه به راتلونکو نسلونو ته انتقال شي. [16]

- د ابو عبيده د اشغال پر ضد د رسنيز جهاد شل کلن مزل :

-سره له دې چې د ابو عبيده اصلي هويت نږدې شل کاله پټ پاتې شوی، خو د هغه ځانګړي غږ، سورې فلسطيني کوفي او شين پټکي هغه د القسام د ويناند په توګه د فلسطينيانو په منځ کې په يوه پېژندل شوې او اغېزمنه څېره بدل کړی دی. نوموړی د مقاومت له تر ټولو مشهور شخصيتونو څخه ګڼل کېږي او د اسرائيلي اشغالګرو له مهمو مطلوبو کسانو څخه هم دی. [17]

-پياوړی رسنيز حضور:

-د ابو عبيده راڅرګندېدل تل د غزې د جګړو او مهمو تاريخي شيبو سره تړلي وو. د غزې د جګړې په وروستيو کلونو کې د «ابو عبيده» نوم په فلسطين، اسرائيلو او ټوله سيمه کې دېريادېده. د هغه هره وينا او څرګندونه د اوريند، د بنديانو د تبادلې او يا هم د مقاومت د مهمو عملياتو په اړه مهم پيغامونه لرل.

[16] - الجزيره نيت : ډاکټر محمد ابراهيم المدهون د فلسطين د ځوانانو، سپورټ او کلتور پخوانی وزير د ادارې او سياست د لوړو زده کړو اکاډمی رئيس .

[17] - وکالة سند للانباء غزه .

ketabton.com - The Digital Library



-امریکایي بندیزونه :

-په ۲۰۲۴ کال کې د امریکا د خزانې وزارت پر ابو عبیده بندیزونه ولګول، ځکه هغه د القسام ویاند و. فلسطینیانو دا اقدام سیاسي فشاروباله اوویې ویل چې دا د اسرائیلو د دوامدارو هڅو یوه برخه ده.

-پرلهپسې اسرائیلي ادعاوې :

-د غزې د جګړې په جریان کې اسرائیلي چاروا کو څو ځله ادعا کړې چې ابو عبیده یې وژلی دی. وروستۍ ادعا دا وه چې هغه د پوځ او استخبار اتو په ګډو عملیاتو کې وژل شوی، - [18] سمبولیک میراث :

-ابو عبیده د نړیدې دوو لسیزو په اوږدو کې د فلسطیني مقاومت د رسنیز غږ او سمبول په توګه پېژندل شوی دی. د هغه نوم له مهمو پوځي لاسته راوړنو او سترو ننګونو سره تړل شوی، له همدې امله هغه د اسرائیلو د هدف او د فلسطینیانو د مقاومت د یوې مشهورې څېرې په توګه یادېږي. [19]

-ابو عبیده هغه مرموز ویاند دی چې غږ یې د مقاومت له مهمو شیبو سره تړلی پاتې شوی او د هغه په اړه د اسرائیلو د وژل کېدو ادعاوې وخت په وخت تکرارې شوې دي. [20]

- دنوي کتاب راپورچې د ابو عبیده د پوځي رسنیز خطاب پرمختګ په ۱۷ کلونو کې څېړي :

-د قاهرې نړیوال کتاب نندارتون کې د "أبو عبیدة.. د رسنیزې جګړې د وسلو مشر" په نوم د مصري لیکوال او ناول لیکونکي سید دواد المطعني د کتاب د لنډ وخت لپاره د لرې کېدو پرېکړې پراخ غبرګونونه راپارولي دي. وروسته له دې چې د مصري عمومي کتاب ادارې پرېکړه وکړه چې کتاب له بیا کتنې وروسته بېرته خپور کړي، دا موضوع په کلتوري حلقو او ټولنیزو شبکو کې لا زیاته وڅېړل شوه.

-دغه کتاب چې د القسام د پوځي څانګې د رسمي ویاند انځورېې په سره فلسطیني کوفي کې چاپ شوی و، د نندارتون د ګډونوالو له خوا ډېر پام ځان ته اړولی و، خو په همدې وخت کې د اسرائیلي رسنیو له سختو نیوکو سره هم مخ شو، چې له امله یې لنډ وخت لپاره له ننداړتون

---

[18] - خبرني اردني ورځپانه .

[19] - خبرني اردنی ورځپانه .

[20] - هویة بریس .

ketabton.com - The Digital Library



څخه لرې شو. وروسته له بیا ارزونې څخه پرېکړه وشوه چې په کتاب کې کومه سرغړونه نشته، نو بېرته د دخلکو لپاره ور اندې شي.

-لیکوال سید دواد المطعني ووېل چې د کتاب د لرې کېدو پرو ور اندې نه ده او نه خپرندوی ادارې کوم تند غبرګون ښودلی، ځکه د ننداړتون چارواکو ویلي وو چې کتاب به وځېړل شي څو ډاډ ترلاسه شي چې کومه سرغړونه پکې نشته. هغه زیاته کړه چې د ننداړتون ادارې ته د دې کار بشپړ حق شته او دوی د محتوا د پاکوالي له امله کتاب بېرته پر ځای کېښود.

-هغه ووېل چې کتاب د فلسطین د مقاومت او اسرائیلي اشغال ترمنځ د رسنیزې جګړې پرمختګ څېړي، په ځانګړي ډول د ابو عبیده د رسنیز خطاب د بدلون او پرمختګ تحلیل کوي.

-کتاب ښیي چې په پیل کې د رسنیزې جګړې یو اړخ یوازې د اشغالګرو په لاس کې و، خو وروسته د مقاومت رسنیز غږ ورو ورو پیاوړی شو. لیکوال د ۱۷ کلونو په اوږدو کې د ابو عبیده د خطاب بدلون څېړي، له ۲۰۰۶ کال څخه تر۲۰۲۳ کال د غزې د وروستۍ جګړې پورې.

-کتاب د بېلابېلو جګړو لکه "وهم المتبدد" ۲۰۰۶، "حجاره السجیل"، "العصف المأکول"، "سیف القدس" او "طوفان الاقصی" په ترڅ کې د هغه د خطاب بېلابېل پړاوونه تحلیلوي.

-لیکوال وایي چې د کتاب مفکوره له پخوا موجوده وه، ځکه هغه له کوچنیوالي د فلسطین د قضیې سره علاقه درلوده. هغه زیاتوي چې د ۲۰۱۴ کال د "العصف المأکول" جګړې پرمهال یې د رسنیز خطاب بدلون ته پام شو، خو هغه وخت یې د معلوماتو کمښت درلود.

-هغه دا هم ووېل چې د ۲۰۲۱ کال "سیف القدس" وروسته یې بیا د کتاب لیکلو فکر وکړ، خو هغه مهال پر بل ادبي کار بوخت و. وروسته د ۲۰۲۳ کال د "طوفان الاقصی" جګړې له پیله وروسته د ابو عبیده لومړني اوږد بیان ته په تمه و، او وروسته یې د کتاب لیکل پیل کړل.

-لیکوال زیاتوي چې د مقاومت رسنیز خطاب ډېر پرمختګ کړی دی، ځکه اوس د هر عملیات لپاره تصویري شواهد وړ اندې کېږي، څو د اشغالګرو د انکار مخه ونیول شي.

-هغه د ابو عبیده د خطاب ځانګړتیاوې هم یادې کړې، لکه د دقیقو الفاظو انتخاب، د نظامي تجربې څرګندونه، او د داسې اصطلاحاتو کارول چې د خلکو احساسات راپاروي.

ketabton.com - The Digital Library



کتاب په پای کې دا څرګندوي چې د ابو عبیده رسنیز حضور د فلسطین د مقاومت په نړیواله رسنیزه جګړه کې مهم بدلون راوستی او د هغه ویناګانې د خلکو په ذهنونو کې ځانګړی اغېز لري. [21]

رسمي تایید: ډسمبر ۲۰۲۵/ وروستی څرګندېدنه :

-د حذیفه الکحلوت "ابو عبیده" وروستی رسنیز ظهور د ۲۰۲۵ کال د جولای په ۱۸مه په یوه ویډیويي کلیپ کې و، چې پکې یې په غزه کې د جګړو د پرمختګونو په اړه خبرې وکړې او تېنګاریې وکړ چې فلسطیني ډلې چمتو دي له اسرائیلو سره د "اوږدې فرسایشي جګړې" لپاره مقابله وکړي.

-د ۲۰۲۵ کال د اګست په ۳۱مه، اسرائیلي پوځ اعلان وکړ چې د هوايي ځواک الوتکو په مرسته یې د غزې په ښارکې د حماس د غورځنګ یو مرکزي مشر په نښه کړی دی. دا عملیات د اسرائیلو د کورني امنیت اداري (شین بېټ)، د جنوبي سیمې د قوماندې او د پوځي استخباراتو د څانګې په همغږۍ ترسره شوي وو.

-وروسته د اسرائیلو لومړي وزیر نتنیاهو د القسام د ویاند "ابو عبیده" د وژل کېدو خبر تایید کړ، او بیا وروسته د دفاع وزیر اسرائیل کاتس هم د دغه عملیاتو د بریالیتوب اعلان وکړ.

-حماس او د القسام د خپل ویاند د وژل کېدو په اړه کوم رسمي غبرګون ونه ښود، خو د "نقاب پوش" ابو عبیده غږ د اوږدې مودې لپاره له سکرینونو او رسنیزو پلیټفورمونو څخه ورک شو.

-وروسته بیا "ابو عبیده" د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر په ۲۹مه (دوشنبه) یو ځل بیا راڅرګند شو او د القسام په استازیتوب یې وینا وکړه. په دې وینا کې یې د "لومړي نقاب پوش ابو عبیده" د مړینې خواشیني څرګنده کړه، او د لومړي ځل لپاره یې خپل اصلي نوم اعلان کړ: حذیفه سمیر الکحلوت، ابو ابراهیم. هغه دا هم وویل چې دی (اوسنی ویاند) د هغه له میراث څخه د "ابو عبیده" لقب اخیستی او د القسام نوی رسمي ویاند دی. [22]

[21] - الوطن دعمان هیواد خپرونه / القاهره. د وحید تاجا له خوا:
[22] - سرچینه: الجزیره / السبیل ورځپانه .

ketabton.com - The Digital Library



**په علني ډول د ابوعبیده رحمه الله دشهادت خبر:**

قال الله تعالي : ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا﴾

-إِنَّا لِلّهِ وَ إِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

-په ډېرې درنې خواشینې او ژور غم سره د کتائب القسام له لوري د خپل ویاند ابو عبیده د شهادت خبر اعلان شو. هغه شخصیت چې غږ یې د محاصرې ترسیورولاندې د میلیونونو خلکو ترغوږونو رسېده، او خبرو یې د درد، مقاومت او هیلو استازیتوب کاوه، نورد خپلو مینوالو ترمنځ نشته.

-د القسام نوي ویاند په یوه غمځپلي وینا کې اعلان وکړ چې ابو عبیده، چې اصلي نوم یې حذیفه سمیر عبدالله الکحلوت و، د اسر ایيلي اشغالګرو ځواکونو په یوه هوا یي برید کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. هغه یوازې یو ویاند نه و؛ هغه د یوه ځورېدلي ملت ژبه، د مظلومو خلکو غږ، او د مقاومت د لارې یو پېژندل شوی سمبول و.

-ویل کېږي چې د ۲۰۲۵ کال د اګست په ۳۰مه، د غزې ښار د الرمل سیمې پر یوې ودانۍ هوا یي برید ترسره شو، هغه ودانۍ چې ابو عبیده پکې موجود و. له هماغې ورځې راهیسې د هغه د برخلیک په اړه پوښتني او اندېښني موجودې وې، تردې چې د شهادت خبر یې په رسمي ډول اعلان شو.

-د هغه د شهادت خبرد فلسطین د خلکو، د هغه د کورنۍ، ملګرو او مینه‌والو لپاره د ژوردرد او نه جبرانېدونکي ضایعې احساس راژوندی کړی دی. ډېر کسان هغه د داسې انسان په توګه یادوي چې د جګړې او سختیو په منځ کې یې د خپلو خبرو له لارې خلکو ته د صبر، استقامت او مقاومت پیغام ورساوه.

-نن د هغه غږ چوپ شوی، خو یادونه، خبرې او هغه اثر چې پر خلکو یې پرې ایښی، لا هم د زړګونو زړونو په حافظه کې ژوندی دی. د غزې د ویرجنو کوڅو او د فلسطین د غمجن ولس په منځ کې د هغه د نشتون درد احساسېږي، او د هغه د ژوند او فعالیتونو یاد به د اوږدې مودې لپاره د خلکو په ذهنونو کې پاتې وي.

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، وَاجْعَلْهُ فِي عِلِّيِّينَ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ.

ketabton.com - The Digital Library



اللهم اغفر له وارحمه، وأسكنه فسيح جناتك، وألهم أهله ومحبيه الصبر والسلوان.
إِنَّا لِلّٰهِ وَ إِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ.. [٢٣]

[٢٣] - النهار العربي ورځپاه .

ketabton.com - The Digital Library



## خاتمه

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین، نبینا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین، أما بعد:

-په معاصره فلسطیني شخړه کې، ابو عبیده د مقاومت یو داسې مرکزي رسنیز څېره ده چې د وسلو، جګړې او سیاسي ستراتیژیو له محدود چوکاټه پورته، د فکري، رواني او سمبولیک ځواک یوه ځرګنده بېلګه وړاندې کوي. د هغه وینا، پیغامونه او رسنیز حضور یوازې د خبرونو خپرول نه، بلکې د مقاومت د هویت، ارادې او معنوي ځواک ژوندي ساتل دي. نوموړی د فلسطیني مقاومت د پیغام د خپرولو یوه ستراتیژیکه وسیله ده، چې د سیمې او نړیوالو ادراکونو په جوړولو کې مهم رول لري.

- د ابو عبیده ژوند او فعالیتونه ښیي چې په اوږدمهاله شخړو کې یوازې وسلې او نظامي تقابل مهم نه دي، بلکې روایتونه، سمبولونه، پیغامونه او رسنۍ د جګړې د توازن په ساتنه کې بنسټیز اغېز لري. هغه د فلسطین د خلکو د ارادې او مقاومت د تاریخ په حافظه کې یوه نښانه ګرځېدلې ده، او د خپلې رسنیزې ستراتیژۍ له لارې د مقاومت د معنوي او فکري ځواک استازی پاتې شوی دی.

-په پای کې، ابو عبیده رحمه الله تعالی یوازې د یوې شخړې ویاند نه دی؛ نوموړی د فلسطیني مقاومت د رسنیزې حافظې، د پیغام د ځواک او د ملت د ارادې یوه سمبولیکه څېره ده چې د نن ورځې او راتلونکي لپاره د فلسطیني مقاومت روایت ژوندی ساتي.

وَصَلَّى اللهُ عَلَىٰ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَىٰ آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

محمد بشیرمدني

ketabton.com - The Digital Library



## منابع او مآخذ

### الف: کتابونه او علمي آثار


١. بابیه، ایلان) .٢٠١٧ .(لوی زندان پر ځمکه: د اشغال شویو فلسطیني سیمو تاریخ .اون ورلډ خپرندویه ټولنه.

٢. شلایم، آوي) .٢٠٠١ .(اوسپنیز دېوال: اسرائیل او عربي نړۍ .ډبلیو. ډبلیو. نورټن او شرکت.

٣. خالدي، رشید) .١٩٩٧ .(فلسطیني هویت: د معاصر ملي شعور جوړښت .د کولمبیا پوهنتون خپرندویه ټولنه.

٤. روی، سارا) .١٩٩٥ .(د غزې ترانګه: سیاست، ټولنه او اقتصاد .د فلسطیني مطالعاتو مؤسسه.

٥. صایغ، یزید) .١٩٩٧ .(وسله‌واله مبارزه او د دولت لټون: د فلسطین ملي غورځنګ )١٩٤٩–١٩٩٣ .(د اکسفورډ پوهنتون خپرندویه ټولنه.

٦. میلټون.اېډوارډز، بېورلي) .٢٠١٣ .(په فلسطین کې اسلامي سیاست .آی. بي. ټوریس.

٧. فریدمان، لارنس) .٢٠١٩ .(ستراتیژي: یو تاریخي تحلیل .د اکسفورډ پوهنتون خپرندویه ټولنه.

٨. خالدي، رشید) .٢٠٢٠ .(د فلسطین پر ضد سل کلنه جګړه .میټروپولیټن بوکس.


### ب: راپورونه او څېړنیزې سرچینې


٩. د نړیوال بحران ډله) .(ICG ٢٠١٨ .(په غزه کې د رسنیو رول او اغېز و تحلیل.

١٠. رویټرز خبري آژانس) .٢٠٢٥ .(د منځني ختیځ د شخړو اړوند راپورونه.

١١. بي بي سي) .٢٠٢٣ .(د رسنیزې جګړې تحلیل.

١٢. الجزیرې شبکې) .٢٠٢٥ .(د غزې اړوند راپورونه او ځانګړې څېړنې.


### ج: انټرنېټي او خبري سرچینې


١٣. الجزیره نېټ.

ketabton.com - The Digital Library



۱٤. د فلسطين د بشري حقونو مرکز.

۱٥. د سند خبري آژانس – غزه.

۱٦. خبرني ورځپانه – اردن.

۱۷. هوية پريس.

۱۸. الوطن ورځپاڼه.

۱۹. السبيل ورځپانه.

۲۰. د ډاکټر محمد ابراهيم المدهون مقالې او مرکې، چې د فلسطين د ځوانانو، سپورټ او کلتورپخوانی وزیر او د اداري او سياست د لوړو زده کړو اکاډمی رئيس دی.

۲۱- النهار العربي ورځپانه .

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*